رسنیزه خبرتیا
د ژر خپرویدو لپاره
اړیکه: مریم صافی
شمیره: ۰۷۷۴۲۸۴۷۷۲
mariamsafi@dropsafghanistan.org - www.dropsafghanistan.org - Twitter: **@drops_afg**

DROPS
ORGANIZATION FOR POLICY RESEARCH & DEVELOPMENT STUDIES
نهاد پژوهش و توسعه

**افتتاحیه غونده**

د ښځی او پالیسی رساله
(لومړی ټوک) 'په افغانستان کښی د دیموکراتیکی حکومتوالی تیر، اوس او راتلونکی: ستونزی څه دی او څنګه کولای شو په دی ستونزو برلاسی شو؟ '

۲۰۱۵ کال د اکتوبر ۲۲مه نیټه

انتر کانتینینتل هوتل - د سهار له ۹:۳۰ تر ۱۱:۳۰ بجو

کابل - افغانستان

د اکتوبر ۲۲مه نیټه: د څیړنو او پراختیایی زده کړو بنسټ **(DROPS)**، د ملی دیموکراسی بنسټ (**NED** ) په مرسته، خپله لومړنی کلنی رساله چی د ښځی او پالیسی تر نامه لاندی ده خپروی. د دی غونډی په ګډونکوونکو کښی د بنسټ غړی، غیر دولتی موسسی، په کابل کی د پالیسی په برخه کی بنسټونه، د جنوبی آسیا او نړیوالو سازمانونو استازی، د مدنی ټولنو غړی، د فکری بنسټونو غړی، زده کوونکی او د لوړو زده کړو موسسو استازی شامل دی.

د ښځی او پالیسی رساله یو ځانګړی نوښت دی:

1. د ښځی او پالیسی رساله لومړنی پالیسی او علمی رساله ده چی د افغانو ښځو لخوا په افغانستان کښې لیکل شوی.
2. په دی رساله کښی افغان ښځی په بیلابیلو موضوعاتو لیکنی کړی او دا ستونزه یی له منځه وړی چی ګویا ښځی یوازی د جندر د موضوعاتو په اړه لیکنی کوی.
3. دی رسالی ښځو ته د دی زمینه مساعده کړی تر څو ښځی د پالیسی په برخه کښی د څیړنو له لاری ونډه ولری.
4. دا رساله په افغانستان کښی د دیموکراتیکی حکومتوالی د ټینګښت لپاره د پالیسی جوړونکو او څیړونکو تر منځ د واټن د له منځه وړلو کردار لوبوی.

د دی رسالی هره لیکنه د رسالی د عنوان سره چی - 'په افغانستان کښی د دیموکراتیکی حکومتوالی تیر، اوس او راتلونکی: ستونزی څه دی او څنګه کولای شو په دی ستونزو برلاسی شو؟' تړاو لری - او د زریزی پراختیایی موخو په پام کی نیولو سره ترسره شوی. د رسالی سرلیکونه په لاندی ډول دی:

1. په افغانستان کښی د دیموکراتیکی حکومتوالی یوه لسیزه: د افغانستان خلکو ته ځواب ویونکی وه؟ - راحیله صدیقی
2. د لیری صحی سیاحت او په افغانستان کی په صحی خدماتو اغیز - فرشته کریمی
3. د افغانستان په امنیتی برخه کښی د ښځو ونډه او لرلید - فضیله رحیمی
4. افغانستان: د ایدز لوړ سیوری - فاطمه احمدی
5. د پالیسی ټکی د بدلون د لسیزی لپاره: د افغانستان سیاسی، امنیتی او اقتصادی راتلونکی - مریم صافی
6. د مدنی ټولنو ملاتړ په ۲۰۱۴ کال څخه وروسته افغانستان کښی: سارک څنګه کولای شی دا تشه ډکه کړی؟ - فرشته ذرابی
7. په افغانستان کښی د فساد سره په مبارزه کښی د ځوانانو ونډه. مریم وردک
8. امنیت او اقتصادی اندیښنی: هغه فکتورونه چی د افغانستان د اوسنی ځوان نسل د هیواد نه په وتلو کښی رول لوبوی - ماها خلیلی سرتیپ

رسنیزه خبرتیا
د ژر خپرویدو لپاره
اړیکه: مریم صافی
شمیره: ۰۷۷۴۲۸۴۷۷۲
mariamsafi@dropsafghanistan.org - www.dropsafghanistan.org - Twitter: **@drops_afg**

DROPS
ORGANIZATION FOR POLICY RESEARCH & DEVELOPMENT STUDIES
نهاد پژوهش و توسعه

9. د افغان ښځو لپاره لوړی زده کړی: د بدلون په لور لار- رویا ابراهیمی
10. د کتاب نقد او څیړنه: ناسم دښمن ( The Wrong Enemy) - امریکا په افغانستان کښی (۲۰۰۱ - ۲۰۱۴) - لیکواله کارلوته ګال - لیلما ناصری

دا رساله په ۱۲ میاشتو کښی تکمیل او خپرولو ته اماده شوه. په سر کښی، **DROPS**، ۱۴ لیکنی تر لاسه کړی چی له دی جملی څخه ۱۰ لیکنی چی هره لیکنه له ۱۵۰۰ تر ۶۰۰۰ کلمو جوړه وه د رسالی لپاره وټاکل شوی. د لیکوالانو له ډلی څخه، دوه لیکوالان د **DROPS** له هغه زده کړی کورس څخه چی د څیړنو میتود د جندر له لرلید څخه نومیده، زده کړی ترلاسه کړی وی، ۳ تنه لیکوالان چی پخوا دولتی کارکوونکی او یا ژورنالیستان وو او اوس په بهر کښی اوسیږی، او ۵ تنه لیکوالان د **DROPS** لخوا ټاکل شوی وو. دا لیکوالان له بیلابیلو کاری برخو څخه استازیتوب کوی، بیلابیلی تجربی لری، بیلابیل عمرونه او کورنی او بهرنی لرلیدونه لری.

د ښځی او پالیسی د لومړی ټوک خپریدل له وخت سره سم ترسره کیږی. د دی رسالی د رامنځته کیدلو چاری د افغانستان د ملی یووالی د حکومت له جوړښت او د انتقال له لسیزی څخه د بدلون لسیزی ته د هیواد دننه کیدلو سره سمون لری. دا رساله به د هغو ستونزو د پیژندلو او څیړلو چی هیواد ورسره د دیموکراتیکی حکومتوالی په ړلی کولو کښی لاس او ګریوان دی په لاندی توګه مرسته وکړی:

1. په افغانستان کښی د ړلی کیدونکی دیموکراتیکی حکومتوالی په وړاندی د شته ستونزو یوه جامع څیړنه
2. دا رساله د ملی یووالی حکومت ته، پالیسی جوړونکو ته او نړیوالی ټولنی ته وړاندیزونه لری تر څو په دیموکراسی پوری اړونده موضوعات او د افغانستان له جګړی نه سولی ته په پروسه کښی چی د بدلون لسیزه ده، سره مرسته وکړی.
3. د ښځو لپاره یو بنسټیز جوړښت چی وکولای شی د ښځو لرلید د پالیسی په بحث او ستراتیژیکو موضوعاتو کښی چی په عمومی توګه له پامه غورځول کیږی، شامل شی. د بیلګی په توګه امنیت، د سولی پروسه، اقتصادی پرمختګ او سیمه ییزی همکاری.

د ښځي او پالیسی د رسالی دوه ګونی تاثیرات:

1. .په افغانستان کښی د اکادمیکی ټولنی د علمی او څیړنیزو ادبیاتو معرفی او د دی تشی ډکول - تر څو روزونکی او زده کوونکی وکولای شی خپلی علمی او څیړنیزی ستونزی له دی لاری حل کړی.
2. له پالیسی جوړونکو سره د ښی تصمیمګیری لپاره مرسته